مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

ژباړه: سمسور ودان ۲۰۲۴/۰۵/۰۳

# سپین رنګ

هو، هو...!

زما سپین ګلان خوښ دي.

د چنبيلي ګل، د نرګس ګل او ستا پر تن سپيني جامې، په سر هواره سپينه لوپټه او په همدې لوپټې کې دې پټ سپوږمۍ ډوله بدن.

دا هر څه داسې ښکاري لکه د شپې مهال سپينو وريځو چې ځلېدونکې سپوږمۍ را ايساره کړې وي. کومه ورځ چې ستا وصال ته ورسېږم، له غېږې درکولو وروسته به دې خوا ته کېنم، سر به دې ورو زنګون ته رانيږدې کړم، په وېښتو کې به دې ګوتې ووهم او دا خبره به ثبوت ته ورسوم، چې کله ناکله يوازې يو تن د هر تکليف علاج کېدلی شي.

ژباړه: سمسور ودان


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکې په ځیر و لولئ